**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## د اسلامي امت پر ټېپونو له سوداګرۍ لاس واخلئ

د سوريې ملکي دفاع ډلې ويلي، د بې ځايه شويو کسانو لپاره د سوريې په شمال لويديځ ادليب ولايت کې د بارانونو او واورو له امله ۲۵۵ کمپونه زيانمن شوي دي. له دې ښکاري چې د هغو کورنيو شمېر چې له کمپونو څخه د باندې شپې او ورځې تېروي، شمېر يې تر ۳،۲۰۰ پورې رسېږي. غير نظامي دفاع څرګنده کړه، چې ښايي دا شمېره د سيمې د طبيعت او له سېلاب څخه د ساتنې د مخنيوي وسيلو د نشت لکه، د بندونو او د اوبو ويالو کانالونو د کمښت له امله ډېروالی ومومي.

تېره چهارشنبه په شمالي ادليب کې د سړې هوا او هغو واورو له امله دوه ماشومان په کمپونو کې مړه شول، چې په شمالي سوريه کې راښوېږدلې وې. يو بل ماشوم تېره ورځ له سختو بارانونو وروسته خپل ژوند له لاسه ورکړ او دری نور ماشومان د دوی د بلاک د کېږدۍ د راپرځېدلو په پايله کې ټپيان شول.

د ادليب ولايت په کمپونو کې د زرګونو بې ځايه شويو خلکو کړکېچ ورځ تر بلې ډېرېږي، ځکه چې د سوريې د وحشي رژيم له لوري غير رسمي کمپونه له نظامي کمپاين سره پر يو وخت پراخېږي. نهه کلونه کېږي چې دا ستونزه په هغو کمپونو کې تکرارېږي چې زيربنا نه لري او بې ځايه شويو خلکو په کرهنيزو ځمکو کې کېږدۍ درولې دي. له دوی سره مرسته نه کېږي، څو بل ځای ځان ته پيدا کړي. تر هغې ظالمانه بمبارۍ وروسته چې ميليونونه ملکي وګړي يې په ادليب کې د ترکيې - سوريې پولې ته نېږدې سيمو ته کډه کړل، دوی هلته د سترړيا او پاتې کېدو احساس کوي. دوی نه ترکيې ته ننوتلی شي او نه هم بېرته خپلو کورونو ته راستنېدلی شي. د وضعيت د خرابېدو پر مهال دوی مناسبه مرسته هم نه شي تر لاسه کولای، ځکه چې په سلګونو زره کورنۍ د خپلو کورونو د امنيت د نه تامين له امله په کېږديو کې ژوند کولو ته اړ شوي دي.

په دې کمپونو کې بې ځايه شوې کورنۍ سربېره پر دې چې د راتلونکي په اړه اندېښنه لري، د ژوند په ډېرو کمزورو شرايطو کې شپې او ورځې تېروي. په داسې حال کې چې پر نړيوالو سازمانونو او مرستندويه ټولنو سربېره، په سړه هوا کې خواړه، درمل، بخارۍ او د ژوند نور اړين توکي نه لري. بارانونو نه يوازې د بې ځايه شويو کورنيو کېږدۍ ويجاړې کړې، بلکې سېلاب يې کالي او کمپلې هم له ځان سره وړي دي. دوی ويده وو او کمپ يې په ډنډونو او ختېو بدل شوی و، لکه هر ژمی چې همداسې کېږي.

د کډوالۍ کړکېچ په پيل کې، مرستندويه او د ملګرو ملتونو بشري سازمانونو د دغه ناورين د پای ته رسولو لپاره د حل لارو د پلټنې او د بې ځايه شويو کسانو د کړاونو د کمولو لپاره، چې د سوريې ظالم رژيم او متحدينو له لوري ورسره مخ شوي وو، له ملګرو هېوادانو څخه د مرستې لپاره يې په مسلسلو کنفرانسونو کې برخه واخيسته.

له يوې اساسي، ان نيمګړې حل لارې پرته ډېر تريخ کلونه تېرېږي، چې موږ ته يو ځل نه څو ځله ښکاري:

ـ دا سازمانونه بشر پاله نه، بلکې له دغې بشر دوستانه قضيې څخه ګټه اخيستونکي دي، ځکه چې دا د کلنۍ ګټې پر فايل بدل شوي دي، چې په چل او دوکې بسپنه راټولوي، بيا يې ټوټه ټوټه کوي.

ـ هغه ملګري هېوادونه چې جوړ جاړی کوي او د هغو ښځو او مظلومو ماشومانو په غميزه کې پاتې راغلي، د تودوخې لپاره ډېرې ساده اسانتياوې نه لري؛ هغه ماشومان چې عمر يې له ناورين سره سم دی. په کمپونو کې د راتلونکي له هغو شرايط سره دوی مخکېدونکي دي چې ان د څارويو لپاره هم مناسب نه دی. الله سبحانه وتعالی دې تاسو ترې وساتي. دا له ستونزو ډک کلونه په داسې حال کې تېرېږي چې تر اوسه ان د واورې طوفانونه نه دي رامنځ ته شوي؟!

ـ دا چې د کمپونو او نورو خلکو شرايطو ته پاملرنه نه کېږي، د چل او خنډ جوړولو يوه برخه ده چې پر دوی د امريکا حل لارې ومني؛ تر دې ادعا لاندې چې «ستاسو لپاره له امريکا پرته بل هېڅوک د خلاصون لار نه مومي» ظالم رژيم او متحدين يې په کمپونو کې زموږ د خلکو يوازينی لامل نه دی. د دوی شريکان هم په سيمه کې نه يوازې د کمپ اوسېدونکي د اساسي حل لارې په موندلو کې پاتې راغلي، يا له پامه غورځېدلي دي، بلکې د اشام خلک هم له همدغو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

**اې مسلمانانو! پوه شئ:**

په سوريه کې د زيانمنو مسلمانانو ملاتړ او د دوی له مصيبتونو څخه خلاصون احسان يا خيرات نه دی، بلکې د اسلامي عقيدې د ورورولۍ له مخې اړين ګڼل کېږي، چې د قرآن کريم په ايتونو او نبوي احاديثو کې يې غوښتنه شوې ده. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**[وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ]**

**ژباړه:** *«...او که هغوی د دين لپاره له تاسو څخه مرسته وغواړي، نو له هغوی سره مرسته کول پر تاسو فرض دي...»* [انفال: ۷۲]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«مَا مِنِ امْرِئٍ يَخْذُلُ مُسْلِماً فِي مَوْطِنٍ يُنْتَهَكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ، وَيُنْتَقَصُ فِيهِ عِرْضُهُ إِلا خَذَلَهُ اللَّهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ، وَمَا مِنِ امْرِئٍ يَنْصُرُ مُسْلِماً فِي مَوْطِنٍ يُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ وَتُنْتَهَكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ إِلا نَصَرَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ».**

**ژباړه:** *«هر مسلمان چې بل مسلمان په داسې ځای کې پرېږدي چې ملګری ونه لري او عزت يې تر پښو لاندې کېږي، الله سبحانه و تعالی يې په داسې ځای کې يوازې پرېږدي چې د الهي مرستې په تمه وي او هر مسلمان چې له بل مسلمان سره په داسې ځای کې مرسته وکړي چې برید پرې کېږي او عزت يې تر پښو لاندې کېږي، الله سبحانه و تعالی په هغه ځای کې مرسته ورسره کوي چې د الهي نصرت تمه ولري.»*

ـ اوس هغه وخت رارسېدلی چې د امت زغورونکو ته فرصت ورکړل شي، تر څو د خلافت پروژه پر مخ یوسي، چې زموږ په عقیده کې ځای لري، نور هېڅ شی په خپل ذات کې د رژیم د راپرځولو پر وړاندې د هڅو د یووالي تضمین نه کوي. په دې سره به خلک له ستونزو خلاص شي، د دې پروژې کارکوونکي پرېږدئ چې کار وکړي.

اې الله سبحانه و تعالی! له موږ سره مرسته وکړه، له ناورین څخه مو وژغوره او د اسلامي دولت د تاسیس توفیق مو په برخه کړه. اې الله سبحانه و تعالی! په بې کوره خلکو د ژمي یخنۍ اسانه کړه او پر دوی رحم وکړه.

**[وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلاً عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ]**

**ژباړه:** *«اوس چې دغه ظالمان څه کوي، تاسو الله سبحانه و تعالی له دوی څخه غافل مه ګڼئ. الله سبحانه وتعالی دوی د هغې ورځې لپاره ځنډوي چې داسې حالت به وي چې سترګې يې رډې پاتې وي.»* [ابراهیم: ۴۲]

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر کې د ښځو برخه**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۱۴مه**

**۲۰۲۱م کال، د جنوري ۲۷مه**

د صدور ګڼه: ۱۴۴۲/ ۰۲۱